《۱۵》

# سپین کالیان

د افغانستان په قدیم تاریخ کښي د سپینو او تورو او زرغونو کالو اغوستونکو خلکو ډېر مهم یادگارونه پرېښي دي، او ځینو خاصو خاصو طبقاتو به سپین یا تور یا بل رنګ کالي د یوه خاص شعار په ډول اغوستل.

دلته زه غواړم چي په اسلامي عصر کښي یوازي د سپینو کالو د اغوستونکو ډلو تاریخچه په مختصر ډول بیان کم :

د ۱۳۵ ه کال په حدودو کښي په خراسان او اوسني افغانستان کښي د عباسي حکومت له پردی سلطې څخه د آزادی لپاره یو عام غورځنګ او ښورښت روان و، او خلکو غوښتل چي د پردیو حکمرانانو له اسارته ځانونه وژغوري، اوبو خپل ملي او داخلي حکومت جوړ کي.

په دغو خلکو کښي لومړی پلا ابو مسلم خراساني راولاړ سو، مگر دی په ۱۳۷ ه المنصور عباسی خلیفه ونیوی او په خپل دربار کښې وواژه، خو د دي آزادي خواه خراساني په وژلو هغه د ملت لمبه خاموشه نه سوه، چي په خراسان کښي بله سوې وه، بلکي تر هغه وخته د آزادی غوښتلو غورځنگونه جاري وه ځو چي په آخر کښي تر دوه قرنه مجاهدت وروسته په خراسان کښي د پخپله خراسانیانو په لاس ملي او د دوي

خپل حکومت جوړ سو. کله چې ابو مسلم د خپل ملي غورځنګ بنسټ په خراسان کښې ټينګ کی، نو د ده سره يو سړی د ابو داوُد خالد بن ابراهيم په نامه ملګری وُ، او چې ابو مسلم د حج په سفر تئ، نو نې خالد په خراسان کښې خپل نايب مقرر کړی وُ. مګر دې سړي د خپل باداره سره خيانت وکی او د بغداد د پردي حکومت په لمسه ئې د ابو مسلم سره کومك نه کاوه، او هغه وُ چې د ابو مسلم تر وژلو وروسته د خراسان حکمراني د بغداد له درباره دغه خالد ته وسپارله سوه.

په خراسان کښې دلته يوه سياسي ډله د سپيد جامګانو په نامه موجوده وه، چې عربو دوي المبيضه بلل، دوی به سپين کالي اغوستل او دغه د دوی د سياسي مسلك شعار وُ.

په دغه سياسي ګوند کښې به عام خلك شامل وه، او مشران به ئې هم له عامو خلکو څخه وه، د دوی انقلابي حرکتونه د سياست او فکر له رويه د غور او مطالعې وړ دی. عبدالحی کرديزی مورُخ په زين الاخبار کښې وايي :

په ۱۴۰ ه کال دغه سپين کالي خلك د سعيد جولاه په مشري په مرو کښې چې د خراسان پايتخت وُ سره راټول سوه، غاو ئې وکی، او سهار وختي ئې دغه خالد د عباسي دربار حکمران په دارالامارت کښې کلا بند کی خالد چې ددغو سپين کاليو ياغيانو بندار د خپل منزل پر شاوخوا وليد، اود دوی ړوړ ئې واورېد د خپلي ماڼۍ پر بام وخوت، مګر پښه ئې وښوهيده، دروب سو له بامه را ولوېد، ملا ئې ماته سوه او د مازديګر خوانه مړ سو. په دې ډول د سپيد جامګانو لومړی ښورښت ښکاره سو، مګر د مرو د امنيت مشرعصام چې د عربو په اصطلاح د مرو صاحب شرطه وُ، ژر ئې سعيد جولاه او د سپين کاليو مشران ونيول



دوی ئې ټول ووژل، او دغه سياسي اوفکري غورځنګ ئې ختم کړ. مګر د خراسان د آزادی غوښتلو ډلي نوري هم وې، او دغه اور داسي ژر نه مړ کېدی، په وارو وارو دغو خلکو غاوونه او بغاوتونه وکړل. څو چي په ۱۶۱ ه کال د مرو له يوه کلي څخه چي کازه نومېدی هاشم بن حکيم راووت او په خلکو کښي يو نوی فکري او سياسي ښورښت واچاوه، دی عربو حکيم مقنع باله، ځکه چي تل به ئې پر مخ باندي يوه زرغونه مقنعه ( نقاب) اچاوه.

مورُخان او مخصوصاً نرشخي د بخارا د تاريخ ليکوال داسي وايي : چي حکيم مقنع د سپيد جامګانو مشر د حلول عقيده درلوده، او دده پيروانو به ويل :

چي د ابو مسلم روح په ده کښي حلول کړيدی، او د دغي عقيدې پيروان د البيروني په قول په آثار الباقيه کښي ليکي :

د پنځم هجري قرن په ابتداء کښي لا هم په پټه په ماوراء النهر کښي وو مګر په اسلامي عقيدو به ئې تظاهر کاوه.

د بخارا د مورُخ نرشخي په قول : دغه مقنع د خراسان ټولو ولايتو ته خپل داعيان او کاغذونه واستول، او خلك ئې خپل دعوت ته راوبلل. وايي چي : حکيم مقنع د مزدك په ډول د ښځو او مالونو د اشتراك او اباحت فکر هم بيا اعلان کی، د ده پيروانو به د خپلي ډلي لپاره کاروانونه وهل کلی به ئې چورول.

د مقنع ټر مخ به تل د سرو زرو يا د زرغونه اتلس نقاب پروت وُ يوه ورځ په مرو کښي د ده پنځوس زره پيروان راغونډ سول، او له ده څخه ئې وغوښتل چي نقاب له مخه واخلي مقنع ورته وويل : چي تاسي زما د مخ تجلي نه سواي ليدلاي. مګر چي د ده پيروانو ټينګار وکی نو

مقنع سل پیغلې راټولې کړلې او دوی ئې هنداري په لاسو کښې پر بام ودرولې کله چي به د لمر رڼا پر هندارو ځلېدله، او لاندې مځکه به ئې ځلوله نو دوي به دا خیال کاوه چي د مقنع د مخ رڼا ده، مګر مخالفانو به ئې ویل : چي دی نقاب ځکه له مخه نه اخلي چي په یوه سترګه ړوند دی.

د مقنع په عجایبو کښې دا هم وایی : چي ده په [illegible] او ډیمیا کښې مهارت درلود له پارې څخه ئې یوه سپوږمۍ جوړه کړې وه چي د نخشب په ښار کښې به هره شپه له څا څخه راختله، نخشب هغه ځای دی چي اوس ئې قرشي بولي قزویني په آثار البلاد کښې لیکلي دي چي د مقنع تر وژلنګ وروسته خلکو په دغه څاه کښې د پارې څخه ډکه یوه کاسه پیدا کړه، او دغه کار ده د علم ریاضي د وړانګو د انعکاس پر اصولو برابر کاوه چي په دری او عربی ادبیاتو کښې دغه مصنوعي سپوږمۍ د ماه نخشب ، ماه سنام، البدر المقنع په نومو مشهوره سوې وه.

مقنع د دغو کارو په واسطه ډېر خلك پر ځان را ټول کړل، او خپل خسر عبدالله بن عمر مروی ئې د تبلیغ لپاره ماوراء النهر ته واستاوه څو چي عمر سوبخي هم د ده پیرو سو او هلته ئې د عربو امیر ور مړ کی.

په دغه وخت کښې حمید بن قحطبه د خراسان امیر و، ده وغوښتل چي مقنع ونیسي مګر مقنع ځان د سنام کلا ته خپلو پېروانو ته ورساوه او هلته ئې خورا ډېر فداکاره سپین کالیان پر ځان راټول کړل، او د عربو پر لښکر او ښارونو به ئې چپاوونه کول ، څو چي المهدی د بغداد خلیفه مجبور سو، او ډېر لښکر ئې د خپلو غښتلو منصبدارانو سره د مقنع مقابلې ته راواستول، او په بخارا، نرشخ، سنام، سغد، مرو او ډېرو نورو ځایو کښې د مقنع د پیروانو سره ونښتل. په ۱۶۱ هـ کال معاذ بن مسلم



د بغداد له درباره د خراسان امیر سو او مرو ته راغی، ده پنځه سوه اویا زره لښکر راټول کړل، چي یوازې درې زره تنه ئې مچلوغزی او ارابه وال په تبرو او تېشو او یومو مسلح سپاهیان وو.

د مقنع ښورښت چي څورلس کاله جاري و، په داسې آسانۍ ختم نه سو، او چي ۱۶۳ هـ پخپله المهدي خلیفه له بغداده د ده مقابلې ته تر بخارا پورې راغی او مقنع څو کاله د سنام په کلا کښې محاصره و، پېروانو ئې په مړانه مقاومت کاوه، څو چي په زرهاو خلك مړه او دېرش زره تنه بندیان سول او له مقنع سره تش دوه زره تنه پاته سول.

دلته نو حکیم مقنع خپل ټول کوروال مړه کړل، او ځان ئې هم په سره تناره کښې واچاوه، او په دې ډول د ده سیاسي او فکري حرکت ختم سو. مګر په تاریخ کښې د ځان لپاره یو خاص ځای خوندي کړی دی. د حکیم مقنع د مرګ په تاریخ کښې مؤرخان سره مخالف دي، مګر کره خبره داده چي ده په ۱۶۳ هـ کال ځان په تناره کښې مکوت کړی دی. (۱)

(۱) پښتون ږغ مجله، ۱۳۴۶ ل کال، ۴ مه ګڼه، ۱۳ مخ.